اې د الله رسوله! که يو څوک راشي او زما مال اخيستل وغواړي؟

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله! که يو څوک راشي او زما مال اخيستل وغواړي؟ هغه وفرمايل: «خپل مال مه ورکوه»، ويې ويل: که له ما سره وجنګېږي؟ ويې فرمايل: «له هغه سره وجنګېره»، هغه وويل: که ما ووژني؟ ويې فرمايل: «نو ته شهيد يې»، هغه وويل: که زه هغه ووژنم؟ ويې فرمايل: «هغه به په اور کې وي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل: ای د الله رسوله ! که يو سړی راشي او زما مال اخيستل وغواړي؟ هغه وفرمايل: نو ته اړ نه يې چې ورته تسليم شې او خپل مال دې ورکړې، هغه وويل: که هغه له ما سره جګړه وکړي؟ هغه وفرمايل: تا ته روا ده چې ورسره وجنګېږې، ويې ويل: خبر راکړه، که هغه ما ووژني؟ هغه وفرمايل: نو ته شهيد يې، هغه وويل: که زه هغه ووژنم؟ هغه وفرمايل: هغه مستحق دی چې په قيامت کې په اور سره عذاب ورکړل شي .

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3557

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee